پوهاند محمد بشير دوديال

۲۰۲۱/۰۹/۱۱

# د طبيعی منابعو آفت او که د ستراتيژيک موقعيت لعنت؟ او که دواړه

## ( دا خپل ښايست را پورې اور دی- پښتو متل)

کلونه کلونه کيږی چي د آرام سا مو نده اخيستی،له يو کړکيچ خلاص نه يو، پسي بل؛ بحران، بحران او بحران...

دبحرانونو علتونه تر يوه حده زموږ تاريخ او جغرافيي را ته تشريح کړی دي. تاريخ وايی چي دا وطن يو ستراتيژيک موقعيت کي دی، نو ځکه هر تاړاکګر ورباندی بلوسی، خو اوس داسي ښکاری چی ظاهراً د بلوسيدو دوران تير دی، نو دا بحرانونه ولی دوام لري؟

اوس نو دتاريخ ترڅنګ اقتصاد دا موضوع را ته بيانوي، خو د سيمي سياست به مو سربداله اودوکه کړي. راځئ تاريخ، جغرافيه، اقتصاد او سياست په ګډه مطالعه کړو !

مشهوره ده چي له سکندر تر مُغل پوري نيواکګرو په دې لاره هندوستان ته د رسيدو په خاطر دا جغرافيه نيوله، خو انګريزه کنچنی په اتلسمه پيړی کي سرچپه؛ د هند دسمندرونو له غاړي راغله، د خپل سيال (روسيي) د مخنوی لپاره يي پرافغانستان راودانګل، خو د افغانستان له مبارز او آزاد ملت سره تر دري ځله جګړو وروسته يي ماتي وخوړه او دسياسی نيرنګ په واسطه يي دا وطن لومړی دوه ټوټي او بيا يي فقط د بفر سټيټ يا حايل سيمی په توګه وساته. دی ته يي د لويي لوبی( Great Game/GG) نوم ورکړی و، لويه لوبه ډيره اوږده شوه تر نن پوري راورسيده. اوس يوځل بيا جنوبی آسيا ته د مرکزی آسيا د پريمانه سرچينو د ليږد، د انرژی د بحران په دور کي د يو کمربند لويي لاري، تاپی(TAPI) او سيپک(CPEC) او نوروپروژو په شان لويو اقتصادی برنامو، د لويو قدرتونو رقابتونو او دسيمي نظامی استخباراتو دغه وطن تر ګواښ لاندی راوستلی دی. همدي پيښو د افغانستان جيوپوليټيک، جيواکونوميک او په سيمه کی ستراتيژيک موقعيت ارزښتمن کړی دی. له بلي خوا دا هيواد د خپلو منابعو له پلوه هم پوره بډای دی، خو له بده مرغه طبيعی منابع ځينی وخت، ځينو هيوادو ته په آفت بدليږی، چي په اقتصاد کي ورته ( resources curse) وايي.

طبيعی منابع يا پنځيزی شتمنی د يو هيواد او د هغه د خلکو لپاره يو نعمت دی، خو ځينی وخت بهرنی ښکيلاکګر له دوی څخه دغه نعمت په زور ترلاسه کول غواړی، افريقايي هيوادونه او هند کلونه کلونه دفرانسی، پرتګال او انګليس منګولو ته پريوتل، که ښه اقتصادی برنامه ورته نه وي يا هيواد له سياسی پلوه لازمه پُختګی او پوهه ونلری، بی ارادی وي، کشمکش کي ګير شی، يا نوري لوبي ونښلي، نو بيا هم دغه نعمت په آفت بدليدای شي. دطبيعی منابعو د آفت موضوع جوزيف ستيګلتز او يو شمير نورو اقتصادپوهانو څيړلی ده. د افغانستان په شان پرمختيايی هيواد ته د دوی پنځيزی شتمنی د کړکيچ، شخړو او

کشمکش محور جوړیدای شی، بده یې لا دا چې د شخړو د دوام لپاره مالی امکانات هم همدا سرچینې برابروي. که مدیریت نشی، مربوطه هیواد ته لویه ستونزه گرځي. په سیرالیون کې د (*له وینونک الماس*) فاجعه (۱۹۹۲ تا ۲۰۰۲) یې یو مثال دی، چې ریښه یې قیمتی سرچینو او منابعو کی وه. په دی فاجعه کې زرگونه خلک ووژل شول، زرگونه ټپیان او معیوب او نور مهاجر شول. ماشومان یې د اوږدې مودی روحی ناروغیو باندی اخته او یونسل له تعلیم پاتې شو. دا د منابعو د آفت یومثال و، ځینو هیوادو کی له منابعو ډکې اوشتمنې سیمې له خپل اصلی هیواد جلا شوی یا هیواد سیاسی بی ثباتی سره مخ شوی لکه عراق، ځینی بیا په سیستماتیک فساد اخته کیږي، ځینوباندې دکتاتور حاکمیت خیته اچوی او دغه منابع په خپله ګټه پلوري، ځینی نور له پریمانه منابعو په ترلاسه شویو پیسو له واقعی پرمختګ بې برخی کیږي، لکه سعودی چې دتیلو له پیسو ښه شتمن و، خو دعلمی کدر، ټولنیزو خدماتو او ډیرو نورو له پلوه غافل او په پردیو تکیه پاتې و، دوی ډیر وروسته دی موضوع ته ځیر او اوس غواړی ځان را سم کړي. طبیعی منابعودځینو لپاره چاپیریالی ستونزی پیدا کړی چې منفی اغیزی یې نشی کنترولولای.

د ستراتیژیک موقعیت په هکله د سویز دکانال یادونه کولای شوچې د جمال عبدالناصر په شان یوملي لیډر وکولای شو هغه د مصر دملت د ستراتیژیکو ګټو په ملکیت واړوي او د ښکیلاک غاښ مات کړي، بل مثال یې د سینګاپور مثر کی وان و چې اوس دغه کوچنی، خو د موقعیت له پلوه ډیر مهم هیواد یو پرمختللی، هوسا او خپلواک هیواد دی، خو یو شمیر نورو خپل ستراتیژیک ارزښت خپل لاس کې ونشو ساتلای او نه یې منطقوی هماهنګی جوړه کړه.

هغه هیوادونه چې د منابعو له پلوه بډای دي، هم قوی لیډرشیپ، سنجول شوی پالیسی او مُدبر سیاست ته اړتیا لري. د منابعو په هکله ضعیفې اوبدې کړنې هم د پرمختیایی هیواد په زیان دي، چې نه یواځې دا چې له خپلو منابعو ښه ګټه نشی اخیستلای، بلکې د ټولنیزې بیعدالتی او په مُفته د دوی د منابعو له لاسه وتو لامل ګرځي، کیدای شی دا د دوو لاملونو له کبله په دووښو ولیدل شي:

١. تیر وخت یو شممیر هیوادونه خپلو طبیعی منابعو پوری تړلي وو، دوی خپل منابع ارزانه په پرمختلوصعنتی هیوادوباندی پلورل، نو ځکه دوی له اقتصادی پلوه وابسته یا نورو پوری تړلی پاتی شول لکه دافریقا څو هیوادونه، دمنځنی ختیز څو هیوادونه، ترکمنستان، ونزویلا، مکزیک، بولیوی او پیرو.
٢. د بډایو سرچینو لرونکی هیوادو کې یو څو کسان چې دغه منابع پر نورو پلوری ښه شتمن دي، دوی پرمختلو هیوادو کی ژوند کوی خو عاید یې دخپل بیوزله هیواد منابع دی، بالمقابل په دی هیوادو کی ډیر خلک بیوزله دی، یعنی په سرچینوشتمن هیواد کی بیوزله خلک، چې د بیعدالتی له امله د دوی منابع نور لوټي.

هغه بل ټکی چې یو هیواد ته د سرچینو د آفت لامل ګرځي، دا دی چې دوی له بهرنیو هیوادو سره له منابعو په استفاده کی ښه شرکت نشی کولای، یعنی دخپلو منابعو په ګټه کی ورسره نشی برخمن کیدای، دا د دوی یو ضعف دی چې د خپلو سرچینو پوره ارزښت نشی ترلاسه کولای او عاید یې هم سم نشی مصرفولای. اوسنی د پوهې اقتصاد( knowledge Economy) که له یوی خوا په عوایدوبحث کوی، له بلی خوا پر لګښتونو هم بحث کوی. که څومره عاید لوړ او ښه وي، خو مصارف سم او اقتصادی نه وي، بیا هم دغه ملک په زیان کی دی چې له بده مرغه ډیر هیوادونه او له هغی جملی افغانستان همدې ډله کی دی. د بیلګې په توګه باکو ونشو کولای د خپلو صادرو شویو منابعو د ارزښت په اندازه، ګټه ترلاسه کړی، یعنی نور خلک د باکو پر سرچینو شتمن شول، خوپه خپله د دی هیواد ډیر خلک بیوزله پاتې شول.


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com

ځیرکتیا، سنجول شوی علمي پالیسي او علمی هڅې هم همدومره مهمی دي، مثلاً جاپان د نایجریا، افغانستان او آذربایجان په پرتله د طبیعی سرچینو له مخی ډیر نېستمن دی، خو له اقتصادی، ټولنیز، کلتوری، سیاسی او تکنالوژیکی پلوه د دوی په پرتله ډیر پرمختللی دی. عربستان، لاوس او وینزویلا هغه هیوادونه دی چی د سرچینو څخه ترلاسه شوی منابع یی په ښه ډول د هیوادو په ګټه نشی استعمالیدای، د دوی شتمن شیخان غربی هیوادو کی په عیش کې ډوب، خو دهیواد سیاست او نړیوال دریځ ډاډمن کوونکی ندی. د ونزویلا شتمن هیواد کی اوس هم فقرزیات دی. دا ستونزې د منابعو د آفت بحث کی حل کیدای شي.

د یو شمیر هیوادو قیمتی طبیعی منابع په مُفته دبهرنی مافیا له خوا قاچاق کیږی، چي دوه زیانونه لري:
١.راتلونکی نسلونو ته دغه سرچینې د یو امانت په توګه نه سپارل کیږی،
٢.ډیرو ضایعاتو لامل ګرځي،

٣. ګټه یي فقط څو محدودو کسانو ته رسیږی لکه د افغانستان د ختیځ ځنګلونه او د پنجشیر او بدخشان قیمتی ډبرې.
اوس نو ویلای شو چي ځینو هیوادو ته د دوی طبیعی منابع آفت او ستراتیژیک موقعیت یي ورته لعنت ګرځي.

ثبات لرونکی پرمختیا (sustainable development)حکم کوی چی له سرچینو او منابعو څخه باید د سرمایې په توګه استفاده وشي، یعنی دسرمایې له ګټي کار واخیستل شي، خو په خپله سرمایه(منابع) باید راتلونکی نسل ته سالمی پاتې شی. زموږ ځنګلونه، وحشی ژوی، اوبه او د قیمتی ډبرو(لاجبرو او سروزرو) کانونه، څرځایونه اونور داسي ندی. په نامناسبه بڼه او غیرمعیاری تکنالوژی استخراج، غیر معیاری پروسس، ټیټ مهارت، ناقانونه اجراات او نور اقدامات د منابعود ضیاع او چاپیریالی ستونزو لامل ګرځی، د بیلګی په توګه د قاچاق له امله د ځنګلونو له منځه تلل دبارانو د کمښت، د خاورو د مینځل کیدو او د تودوخی دزیاتیدو او اقلیم دمنفی بدلون لامل ګرځي. دا د منابعو یو بل آفت دی. مُدبر اوښه حکومت، قانونمند مدیریت، غوره او علمی پالیسی او ملی تفکر دغه آفت په نعمت بدلوی.

افغانستان د یوویشتمی پیړی په دوهمه لسیزه کې ملا وتړله چی دولت جوړونه بشپړه، خپل ستراتیژیک موقعیت ته ځیر او خپل جیواکونومیک او جیو پولیتیک وضعیت په خپله ګټه را وګرځوی او له بلې خوا ځان له انزوا او بفر حالت څخه خلاص او منطقې او نړۍ سره تعاملاتوته داخل او سیمه ییز رول ادا او سیمه ییزو لوبو کی د سیالانو سیال شی. دا بیداری د لویې لوبې طراحانو ته ګرانه تمامیده، نو د دولت دننه پنځم ستون او جګړو ته زور ورکولو دا هدفونه په اوبو لاهوکول. بل قدم کی یی دخپلو طبیعی منابعو د مدیریت او دهغو په واقعی ګټو کې شریکیدل و، دچابهار له لارې نړیوالو اوبو ته رسیدل او څلورو خواوو ته دوچې د پنځو بندرونو پرانیستو هم یو شمیر سیالان را وپکرول. سیمه کې د دوه-درې لویو اقتصادی قدرتو را څرګندیدو د غرب او امریکی په معادلو کی د افغانستان ارزښت بلې خواته بوت، سره له دې چی افغانستان وړاندیز کاو چی موږ غواړو د سیمې په تجارتی او مدنی څلور لارې بدل شو، خو دا چانس ورنه کړل شو. دا وخت د افغانستان سالم او اصولی حکومت او اجرائیوی ارګانونه نه لرل، د دې پر ځای یو متفرق شرکت و چې هر یو امتیازات غوښتل او په تنظیم شوی فساد کې ښکیل وو. ملت له بیعدالتی په تنګ او دپردیو د لاسوهنې فرصت ښه پوره برابرو. کله یي چې د اوبو مدیریت ته ملا وتړله، وخت تیر و او د خلکو بیخبری او کمه پوهه او د اوبوطماعانو دافرصت هم ورڅخه وتروړ. د داخلی نوپایه صنایعو (infant industries) او عنعنوی تولید وده د درواغجن تجارت، ډمپنګ ، د جنګ د لمنی دپراخولواو خیانت له امله ودرول شوه او په نطفه کې شنده شوه.دزیرزمینی شتمنیو لپاره نقشه هم افشا او مخه یي د اوږدې مودې لپاره وتړل شوه، د سیمې په کچه لویو معاملو او په ملی کچه مفسدو سیا سیونو د ملی ګټو دغه چوکاټ درې وړې کړ او لعنت د آفت ملاتړله. سازماندهی شوي فساد او دمتفرق دولت غړو افتضاح رامنځته او د لویې لوبې لوبغاړو ډیر څه د افغانستان له دولته په پټه پرمخ بوتلل. په پایله کې افغانستان د نړۍ د ډیرو طبیعی منابعو لرونکو هیوادو سره په توپیر؛ د سرچینو یا منابعو په افت واوښت. دا نوې بیلګه به په اقتصادی بحثونو کې ثبت اویو جلا مثال به وي، چې تر ډیره پورې د اقتصادی ستراتیژیستانوپه عوض استخباراتو پکې ډیر رول درلود.
ځینی وخت یو شمیر مسایل په اقتصاد کې بدبینانه ښکاري لکه د نفوسو په اړه د مالتوس نظریات. مالتوس دهندسي تصاعد په بڼه د نفوسو زیاتوالی او د حسابی تصاعد په بڼه د تولید زیاتوالی ورخطا کړ او د نفوسو یوه بدبینانه نظریه

يې ورکړه، خو اقتصاد پوهانو او سياستوالوهغه بابيزه ونه ګڼله، بلکې له ده وروسته يې دې معضلې ته د حل دلارو په لټولو پيل وکړ، د آفت او لعن پورته تفسير هم شايد بدبينانه وګڼل شي، خو بابيزه يې مه بولئ، مهمه داده چې د حل په لارو يې فکر وشي.



برای مطالب ديگر پوهاند محمد بشير دوديال روی عکس کليک کنيد



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com